# د مهاجرت او ادغام په اړه مطالعه (د ادغام سروې)


- د «مهاجرت او ادغام» مطالعه د څه شي په اړه ده؟
- د سروې قانوني اساس څه دی؟
- سروې څوک پرمخ وړي؟
- تاسې د سروې لپاره څنګه انتخابیږئ؟
- سروې څنګه په لاره اچول کیږي؟
- ستاسې ډیټا څنګه محافظت کیږي؟
- آیا سروې یو قانوني شرط دی؟
- اړیکه


### د «مهاجرت او ادغام» مطالعه د څه شي په اړه ده؟

مهاجرت او ادغام متنوع موضوعات دي او خلک د دې موضوعاتو په اړه مختلف نظرونه لري. د دې سروې موخه د نفوس ټولو ډلو څخه د خلکو نه د هغوی د نظر پوښتل دي. دا سروې همدارنګه په کلنې ډول خپریدونکي احصایوي کلني «مهاجرت او ادغام» لپاره مهم اساس دی.

دا معلومات عموماً په چمتو شوي احصایې کې یا د عامه اداري نهادونو لخوا مدیریت کیدونکي ډیټابیسونو کې نشي موندلی کیدی. د همدې لپاره د فعالیت راپور ورکولو لپاره سروې ګاني لازمي سرچیني دي. د همدې لپاره موږ تاسې نه د مرستي غوښتنه کوو! موږ ته د خپلو معلوماتو په راکولو سره، تاسې پدې کې د ارزښت وړ ونډه اخلئ؛ یوازې په هغه صورت کې چې هر ځواب ورکونکی پوښتنو ته د زړه نه او په صداقت سره ځواب ورکړي نو د اتریش وضعیت به په سم او صحیح ډول ترسیم شي.

### د سروې قانوني اساس څه دی؟

په سروې کې ګډون کول د معلوماتو وړاندې کولو لپاره کوم ډول قانوني شرط ندی او د همدې لپاره ګډون کول په بشپړ ډول داوطلب او رضاکار دي. په هرصورت، د ډیټا د کیفیت لپاره په لوړه کچه ګډون کول خورا مهم دي. دا سروې د فدرال ریاست لخوا په لاره اچول شوی او تمویلیږي، او د 2017 راهیسې د قانون له مخې اړین د ادغام نظارت پروګرام برخه ده.

### سروې څوک پرمخ وړي؟

دا سروې د فدرال اداري Statistik Austria لخوا پرمخ وړل کیږي. Statistik Austria د حکومت په استازیتوب د اتریش اقتصاد او ټولنې په اړه د لوړ کیفیت ارقام او تحلیلونه چمتو کوي. دا حقایق او ارقام د پالیسي جوړونکو، ادارو، صنعت او نړیوالو نهادونو لخوا پریکړو کولو لپاره معتبر اساس جوړوي. Statistik Austria یو شرکت دی چې د اتریشي خلکو په استازیتوب کار کوي او غیرانتفاعي دی. دقت، بې پرېتوب، عینیت او ارتباط د Statistik Austria لخوا ترسره کیدونکي کار لپاره لارښود اصول دي. د اتریش د مخکښ معلوماتو خدمت وړاندې کونکي په حیث، Statistik Austria تر ټولو ستر ناڅاپي بیلګي سروې کوي، کوم چې په هیواد کې د ټولنیز او اقتصادي ژوند په اړه دقیق معلومات عرضه کوي. د کیفیت د تضمین عصري وسایل هم کارول کیږي.

### تاسې د سروې لپاره څنګه انتخابیږئ؟

د وخت او لګښت دلایلو لپاره په اتریش کې د هر چا سروې کول ناممکن دي. د همدې لپاره د خلکو یوه ډله انتخابیږي او موخه دا وي چې د امکان تر حد پورې په اتریش کې ژوند کونکي ټول نفوس په سم ډول منعکس کړي. دا ډله په ناڅاپي ډول انتخابیږي ترڅو داډ لاسته راشي چې هرڅوک د سروې کیدو ورته فرصت ولري.

### سروې څنګه په لاره اچول کیږي؟

لومړی، د ناڅاپي بیلګي لپاره انتخاب شوي خلکو ته د Statistik Austria لخوا یو لیک لیږل کیږي. دې لیک کې د آنلاین پوښتنلیک لنک او د لاسرسي ډیټا (د کاروونکي نوم او پاسورډ) موجود وي.

### ستاسې ډیټا څنګه محافظت کیږي؟

مهاجرت او ادغام د ډیرې خلکو لپاره ډیر شخصي موضوعات دي. د همدې لپاره به ټولو معلوماتو سره هرو مرو د محرمیت له مخې چلند کیږي.

تاسې کولی شئ د دې سروې په اړه د ډیټا د محافظت هراړخیز معلومات زموږ د **ډیټا خوندیتوب پاڼه** کې وموميئ (PDF, 27 kb) (دا سند یوازې په آلماني ژبه کې شتون لري). د احصایې پټوالی او ستاسې د شخصي ډیټا محافظت زموږ د خورا مهمو **اصولو** برخه دی. موږ د **فدرال د احصاییې قانون**، **د عمومي ډیټا محافظت مقررات** او **د ډیټا د محافظت قانون** له مخې اړ یو چې دا ډاډ وړاندې کړو. د همدې لپاره احصایي ډیټا ستاسې د نوم یادولو پرته پروسس کیږي (په بې نومي یا مستعار ډول وړاندې کیږي). ستاسې نوم او آدرس ته یوازې تاسې سره د اړیکې لپاره اړتیا ده. دا تفصیلات په ډیټابیس کې د ځوابونو څخه جلا خوندي کیږي او کله چې سروې وتړل شي نو بیرته حذف کیږي. شخصي معلومات لکه نومونه او آدرسونه د ارزول شوي ډیټا څخه حذف کیږي. همدارنګه ارزوني یوازې د ډلو یادونه کوي، په انفرادي ډول افرادو ته نه راجع کیږي. په بله وینا، په پایلو کې انفرادي ځوابونه نشي پیژندل کیدی. د ډیټا محافظت په طبیعي ډول دا معنی هم لري چې د شخصي معلوماتو لړونکي تفصیلات باید کومو دریمو ډلو ته ورنکړل شي – نه حکومتي ادارو ته او نه هم شرکتونو ته.

### آیا سروې یو قانوني شرط دی؟

په سروې کې د ګډون کولو لپاره هیڅ کوم قانوني مکلفیت شتون نلري. د همدې لپاره ګډون کول داوطلب او په خپله خوښه دي. که تاسې ګډون وکړئ نو تاسې به زموږ لخوا د مننې لپاره یو کوچنی توکن ترلاسه کړئ.

**اړیکه**

موږ په خوشحالۍ سره په آلماني یا انګلسي ژبو کې د دې لاندې اړیکې معلوماتو له لارې پوښتنو ته ځواب ورکوو:

تلیفون: +43 1 71128-7200 (سهار 9 تر ماسپښین 3 بجو پورې)

بریښنالیک: integrations-befragung@statistik.gv.at